# اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال د چنګاښ ۲۱ |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | ښاغلی عین الدین بهادري د کمېسیون رییس |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام ، د کمېسیون کمېشنره آغلې زهرا موسوي ، ښاغلی د کمېسیون د دارالانشا ریاست رییس عصمت الله حیدري ، حقوقي ښاغلی محمد حسن پویا او تخنیکي سلاکار ښاغلی ولي الله مصباح |
| د غونډې تنظیموونکی | محمدحسن پویا |

طلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۳۹۹ کال، ۲۱ چنګاښ د پورته ګډونوالو په شتون کې تر سره شو او په لاندې مواردو بحث او د اندونه تبادله وشو:

۱ . دا غونډه چې د کمېسیون د ریاست په مقام کې جوړه شوې و، اصلي محور یې د کمېسیون د ۱۳۹۹ کال عملیاتي پلان چې د دارالانشا ریاست لخوا له وړاندې ترتیب شوې مرور و. په پیل کې د دې پلان جوړښت د دارالانشا ریاست رییس ښاغلي عصمت الله حیدري لخوا په لنډ ډول معرفي شو. ورپسې په دې پلان کې ۶۰ پېژندل شوي فعالیتونه په موردي ډول تر بحث لاندې ونیول وشول او ځینې نور فعالیتونه هم ور زیات شول. په پایله کې د ۱۳۹۹ کال عملیاتي پلان د کمېسیون د غړو د زیاتو رایو په پام کې نیولو سره تصویب شو. سر بېره پر دې لاندې ویل شوي ټکي هم په پام کې ونیول شي:

- ✓ د څارنې او ارزونې امریت د دندو د ډېر حجم له امله، د راتلوونکي کال په تشکیل کې دوه بېل«د څارنې او ارزونې دننی امریت» او « د اطلاع رسونې له مراجعو د څارنې امریت» وړاندیز شوه.
- ✓ د کمېسیون د خپرونو او اړیکو پالیسي باید د اړوندو امریتونو لخوا برابره شي.
- ✓ د انلاین سېستم څخه د ګټې اخیستنې کړنلارې د تنظیم څرنوالی دې په ګډه شکایتونو ته د رسېدنې امریت، د څارنې او ارزونې امریت، د اطلاع رسونې مسوول ښاغلی احسان رویش او د کمېسیون وېب پاڼې مسوول ښاغلی حقیار لخوا د عمومي رییس صاحب په مشوره ترتیب او وروستی کړي.
- ✓ حقیار صاحب ته هدایت وشو چې اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سېستم په ورځ کې دوه ځلې وڅېړي تر څو په سېستم کې کومه ستونزه رامنځته نه شي او ستونزه پر وخت رفع شي.
- ✓ د ادارو له وېب پاڼو څخه د څارنې شاخصونو باندې تجدید نظر وشي.
- ✓ له ادارو څخه د غوښتل شویو اطلاعاتو تشخیص، ډول او د شمېر تحلیل په اړه دې یو اطلاعاتي بانک ډیزاین او جوړ شي.ښاغلي عمومي رییس صاحب زمنه وکړه چې حقیار او د ژورنالیستانو اتحادیې تر منځ د لیدنې فرصت برابر کړي تر څو د اطلاعاتي بانک په جوړولو کې له هغو څخه الګو واخلي.

- ✓ په راتلوونکې کال کې د اسنادو د ديجيټل کولو او د پروسې چټکې د کمېسيون د مشرتابه لخوا تر بحث لاندې ونيول شو. پرېکړه پر دې وشو چې د ديجيټل کولو لپاره لومړني اقدامات وشي.
- ✓ د مدني ټولنې له سکرتريت او مدني ټولنې سره د لا همغږۍ، د کمېسيون ولايتي سفرونو ته د همکارۍ غوښتل او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق په برخه کې د هېوادوالو پوهاوي لوړوالي په اړه د کمېسيون ملاتړ کول.
- ✓ په دې غونډه کې په افغانستان کې د يونسکو او جي آی زيټ په مالي او تخنيکي ملاتړ لاسته راوړلو باندې ټينګار وشو. د دارالانشا رياست او تخنيکي سلار ته دنده ورکړل شو چې د دغو موسسو د ملاتړ لپاره د پام وړ د کړنو لړ لیک ځانګړی کړي.

۲. اطلاعاتو ته د لاسرسي حق په اړه د هېوادوالو پوهاوي د لوړولو په برخه کې د تلويزيوني سپاټونو سکالو او د اطلاعات غوښتلو طريقه تر بحث لاندې ونيول شوه او وروستی شوې نسخه يې د ډېرو رايو په ګټلو تصويب شوه.

درنښت

د کمېسيون رييس ښاغلی عين الدين بهادري

د کمېسيون مرستياله آغلې نجيبه مرام

د کمېسيون منشي ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسيون کمېشنره آغلې زهره موسوي